PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۲۸

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۲۸ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۰۳ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غويي ٦ مه – د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق جمادي الاول ۲۱ مه د ۲۰۱۱ د اپریل ۲۶ مه

ده ها حلقه ماین ساخته ایران کشف و ضبط شد

مسوولان پولیس ولایت سرپُل، ۱۹۲ حلقه ماین ضد پرسونل ساخت کشورهای ایران، پاکستان و روسیه را کشف و ضبط کردند.

مل پاسوال اسدالله شیرزاد قوماندان امنیهٔ سرپُل، گفت که این مقدار ماین شب گذشته از یک دیپو در قریهٔ چاموک چهارباغ شهر سرپُل به دست آمده است.

به گفتهٔ وی، این ماین ها ساخت کشورهای ایران، پاکستان و روسیه می باشد، اما وی تعداد ماین های ساختِ هر کشور را مشخص نکرد.

موصوف افزود که این دیپو به همکاری ص۳

د کابل بانک د قضیې پر سر، ولسي جرګې یو ځل بیا د روان کال بودیجه رد کړه

ولسي جرګې د روان کال بودیجه د دویم ځل لپاره د رایو په اکثریت سره رد کړه.

د ۱۳۹۰ لمریز کال عادي او پراختیایي بودیجه تېر کال د سلواغې پر ۱۹ مه د مالیې وزارت مشرانو جرګې ته وړاندې کړه او د کب په ۹ مه د مشرانو جرګې له تایید وروسته ولسي جرګې ته وړاندې او د کب په ۲۱ مه یې په اړه د مالیې وزیر ولسي جرګې ته معلومات ورکړل.

خو ولسي جرګې لومړی ځل د وري پر ۸ مه دغه بودیجه رد کړه او نیوکه یې کوله، چې په بودیجه کې انډول او بنسټیزې پروژې په پام کې نه دي نیول شوي او پراختیایي پروژه د ۱۳۸۹ کال په پرتله کمه ده.

لومړی ځل وړاندې شوې عادي بودیجه ۱۵۰ میلیارده افغانی او پراختیایي بودیجه ۶۵،۷ میلیارده افغانی وه، خو د ۱۳۸۹ کال پراختیایي بودیجه ۱۱۶،۲ او عادي بودیجه ۹۹،۲ میلیارده افغانی وه.

خو وروسته حکومت د یو لړ نورو بدلونونو ترڅنګ عادي ۳مخ

د قومي مشرانو دوژلو لړی اوس هم دوام لري...

په نیمروز او فراه ولایتونو کې دوه قومي مشران د ناپېژاندو وسلوالو طالبانو له خوا ووژل شول. د فراه ولایت یوه قومي مشر حاجي عبدالفتاح پرون سهار د غویي پر ۵ مه د وسلوالو طالبانو له خوا ووژل شو.

د فراه امنیه قوماندان مل پاسوال سید محمد روشندل وویل چې حاجي عبدالفتاح د پشت رود ولسوالۍ د تبغ اب په سیمه کې وژل شوی دی.

ټومړي وویل، چې دغه تن له دولت سره هېڅ اړیکې نه درلودې او یوازې یې د قومي شخړو د هوارولو په برخه کې یې فعالیت کاوه. د یوبل خبر له مخې، ورمه شپه د نیمروز ولایت په زرنج ښار کې یو قومي مشر د ناپېژاند وسلوالو له خوا ووژل شو.

د نیمروز امنیه قوماندان مل پاسوال عبدالجبار پردلي د غویي پر ۵ مه پژواک ته وویل چې دغه قومي مشر د زرنج ښار په دهمرد کلي کې د ناپېژاندو ۳مخ

د داوطلبۍ اعلان

د پاکستان سفارت، کابل

د مناقصې وړاندیز

د ۱۰۰ پایو کمپیوټرونو او په هغو پورې اړوندو لوازمو د چمتو کولو لپاره د افغانستان له راجستر شویو کمپنیو څخه وړاندیز د لاندو ځانګړنو له مخې منل کېږي:

- انټل (کور) آي ۵،
- (تاور)، ۲،۴ جي. ایچ. زیډ،
- د ګرافیک کارډ، د ډي. ډي. آر رم ۴ جي بي،
- (ساتا) ایچ. ډي ۲۰۰ جي. بي،
- ډي. وي. ډي آر ډبلیو،
- موز،
- کیبورډ،
- ۱۹ انچه مانیټور،
- د (تور او سپین) د ۱۳۰۰ لیزر جت پرنټر ایچ. پي سره د (ایم، ایس ۵) ایل. سي. ډي او یو. پي. ایس.

وړاندیزونه باید د اعلان د خپرېدو تر نېټې وروسته د ۱۵ ورځو په موده کې د کابل د وزیر اکبر خان مینې د نجات واټ ۱۰ لمبر کور د پاکستان سفارت ته وسپارل شي.

د سفارت د تحریراتو رییس

کابل – د پاکستان سفارت

د ۲۰۰۱ کال د اپریل ۲۴

د اړیکې شمېره، ۱۳– ۲۳۰۰۹۱۱ – ۲۰

د داوطلبۍ اعلان

کابل، د پاکستان سفارت

د مناقصې وړاندیز

د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د ۵۰ لاسي پمپونو د نصبولو په موخه وړاندیزونه د لاندنیو ځانګړنو له مخې منل کېږي:

۱. د اوږدو ستنو له پایو سره، د ۲۰۰ فوټو لپاره د (پامیر) د مکمل الاسباب لاسي پمپونه ۲۵ پایې، د اس. اس. یو او ډبل. جي میلونه ۲۰ دانې.

- تمرکز ورکوونکي او یا استقراري میلونه.
- سپنسر (پیچ ورکوونکي)
- رسۍ
- د کب نیونې وسایل، د (رویال) ۶۳ ملي متري یو پي وي سي پایپ چې ۲،۹ متره اوږدوالي ولري، او د دېوال ضخامت یې ۴،۷ ملي متره او تر هغه زیات وي د سکاټ ۲۰۰۳– ۰ آر. ای. وي ځانګړنو په مطابق ۲۰ دانې.
- له اوږده ستون سره یوځای، د ۱۰۰ فوټو لپاره د (افري ډیو) مکمل الاسباب لاسي پمپونه ۲۵ پایې.
- تمرکز ورکوونکي میلونه.
- سپنسر (پیچ ورکوونکي)
- رسۍ
- د کب نیونې وسایل، د (رویال) ۶۳ ملي متري یو پي وي سي پایپ چې ۲،۹ متره اوږدوالي ولري، او د دېوال ضخامت یې ۴،۷ ملي متره او تر هغه زیات وي د سکاټ ۱۹۹۸–۲ آر. ای. وي ځانګړنو په مطابق ۱۰ دانې.
- د دیوال د تنې ضخامت ۴،۰۰ ملي متره، د دیوال د تنې لوړوالی ۱۸،۰۰ انچه.
- د دیوال د پایې ضخامت ۶،۰۰ ملي متره
- د دیوال د ډجې ضخامت ۶،۰۰ ملي متره
- د دیوال د پمپ د میلې ضخامت ۱۰،۰۰ ملي متره
- د پایې لوړوالی ۹۷۰،۰۰ ملي متره
- د دیوال د میلې د پایې ضخامت ۴،۰۰ ملي متره
- د وسپنیزې پایې د زاویې ضخامت ۶،۰۰ ملي متره
- د دیوال د پایپ د دستګیر ضخامت ۴،۰۰ ملي متره
- د دیوال د دستګیر د چنګک ضخامت ۴،۰۰ ملي متره
- د دیوال د دستګیر د چنګک ضخامت ۸،۰۰ ملي متره

وړاندیزونه باید د اعلان د خپرېدو تر نېټې وروسته د ۱۵ ورځو په موده کې د کابل وزیر اکبر خان مینې د نجات واټ په سړک کې ۱۰ لمبر کور د پاکستان سفارت ته وسپارل شي.

د پاکستان د سفارت د تحریراتو رییس، کابل

د ۲۰۰۱ کال د اپریل ۲۴

د اړیکې شمېره: ۱۳– ۲۳۰۰۹۱۱ – ۲۰

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سر مقاله

رویداد زندان قندهار و پرسش های بدون پاسخ!

در حالی که امسال در نظر است، پروسۀ انتقال مسوولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای امنیتی داخلی آغاز یابد، مخالفان مسلح دولت به حملات شان شدت بخشیده و با تغییر تکتیک و روش های تازه وارد میدان شده اند. انتظار می رود، جریان انتقال مسوولیت های امنیتی تا سال ۲۰۱۴ یعنی سال پایان حضور نیروهای خارجی در افغانستان به شرف اکمال برسد. هم اکنون کارهای مقدماتی و ابتدایی این پروسۀ مهم، در حال تکمیل است.

طالبان با به چالش کشیدن این پروسه در این اواخر به حملات شان بیش از پیش شدت بخشیده و به کارگیری روش ها و تکتیک تازه تا اندازه یی توانسته اند، توانایی و کارایی نیروهای امنیتی افغان را زیر سوال برده و مورد شک و تردید قرار دهد؛ حملۀ بالای قوماندان امنیۀ ولایت قندهار در دفتر کارش، حملۀ انتحاری با استفاده از یونیفورم اردوی ملی بر قرار گاه اردوی ملی در ولایت لغمان و بالاخره حمله بر ساختمان وزارت دفاع ملی که به کشته و مجروح شدن ۹ تن از سربازان ارتش انجامید، نمونه های زنده یی است که این مدعا را به اثبات می رساند.

این مسیر چالش زا ادامه دارد؛ دیروز طالبان با تکتیک جدیدی در شهر قندهار، محبس این ولایت را که محل نگه داری صدها تن از زندانیان طالب بود و به شدت از آن حفاظت و پاسداری می شد، هدف قرار دادند و توانستند در نیمه های شب در آن نفوذ نموده، به شمول ۱۵۰ تن از فرماندهان زندانی خود، در حدود ۵۰۰ تن از افراد زندانی خود را از بند فرار دهند.

این رویداد باز هم آخرین مورد از قدرت نمایی طالبان در درون نهادهای امنیتی افغانستان نخواهد بود؛ شاید در روزهای آینده، پیشامدهای بیشتر و پیچیده تر از این قبیل اتفاق بیافتد. اما اینکه این همه حادثات دراماتیک و خلاف تصور چه چیز را به نمایش می گذارد و چرا ما در مدت بسیار کوتاهی، شاهد وقوع چنین رویدادهای پیچیده و زنجیره یی هستیم؟

در واقع اگر این رویدادها را کمی به دیدۀ ژرف مورد بررسی و موشگافی قرار دهیم، در قدم نخست، نفوذ بدون شک و تردید طالبان را در صفوف نیروهای امنیتی نشان می دهد و در گام های بعدی ناتوانی و ناکارآمدی نیروهای امنیتی افغان را به همه نمایان می سازد؛ نیروهایی که توقع می رود تا چند روز دیگر روند انتقال مسوولیت به آنان آغاز یابد.

با این وجود، پرسش های اساسی یی که در این راستا مطرح است، این است که با وجود این همه امکاناتی که آنان در دسترس دارند و با همه ادعاهایی که مقام های امنیتی کشور به رخ رسانه ها می کشد که گویا اکنون وضعیت در کشور زیر کنترول و نظارت آنان قرار دارد، چرا بازهم چنین حادثات زنجیره یی در شرف وقوع است. اگر یک بار و یا دو بار با چنین رویدادهایی رو به رو می شویم، می شود که با کاربرد اصطلاح تصادف آن را جبران کرد، ولی اینکه همه روزه شاهد تکرار آن هستیم، این مسأله واقعا سوال برانگیز است. پرسش هایی که هنوز کسی پاسخ روشنی به آن ارایه نکرده است.

که همدا حال وي، ټول افغانستان به سقوط وکړي!!

میوند

که د افغانستان امنيتي وضعې ته توجه وشي، نو سړی ويلی شي، چې د دغه هېواد امنيتي حالات ورځ په ورځ خرابېږي او د دې پر ځای چې سموالی په کې راشي او هېواد د سولې په طرف رهبري شي، د جګړې او تاوتريخوالي په طرف ځي. که په رښتيا سره د افغانستان جګړه د ترور بزم د له منځه وړلو او د سولې د راوستلو په هدف پيل شوې وي، نو بيا داد امريکا، ناټو هېوادونو او افغان لپاره ډېره د شرم خبره ده، چې له نويو پرمختللو وسلو، وسايلو او تېکنالوژۍ سره سره بيا هم دوی له ماڼې سره مخ کېږي او د ماڼې زېرې ورکوي، په داسې حال چې د دوی مخالف جهت يا طالبان له ډېرو زړو وسلو او ان په بريدونو کې د کيمياوي سړي او بوشکو له کارونې کار اخلي او په همدې نشتو وسايلو يې امريکا، ناټو او افغان پوځونه تر خطر لاندې راوستي دي. زمونږ په هېواد کې وروستيو نا امنيو وښودله، چې طالبان اوس تر پخوا ډېر پياوړي شوي او حتا ورځ په ورځ پياوړي کېږي هم، ځکه دوی اوس د دې توان پيدا کړی، چې ان د افغانستان د پلازمېنې کابل زړه هم ترې خوندي نه دی او د دې تر خوا دا وړتيا يې هم پيدا کړې، چې اوس د بهر نيو پوځونو او افغان امنيتي پوځونو له ولکې د هېواد ځينې برخې او وسلوالی هم ترګوتو کړي او خپله واکمني په کې ټينګه کړي، چې ښه مثال يې د نورستان ځينې وسلوالی دي، چې څو څو ځلې پرې طالبان واکمن شوي او دي. همداشان يوازې نورستان بايد ياد نه کړو، بلکې د هېواد ځينې شرقي او لوېديځې سيمې هم له دې ډول حالت سره مخامخ دي. په همدې حال کې پرون د افغانستان لوړپوړو امنيتي چارواکو د کونړ ولايت د چپې درې او مانوګي وسلوالیو د احتمالي بايللو خبر داری هم ورکړ. د افغانستان د ملي امنيت رياست د وسلوالو مخالفينو دداسې پلانونو خبره کړې چې غواړي دغه وسلوالی ونيسي.

دغه دوې وسلوالی ډېر ستراتيژيک اهميت لري او داسې اند ښېنې شته که چېرې وسلوال مخالفين دغه وسلوالی ونيسي، نو د کونړ او نورستان ولايتونو مرکزونه هم له امنيتي ګوابنو نو سره مخامخ کېدای شي. شاو خوا درې اوونۍ وړاندې وسلوالو طالبانو د نورستان د وانت وايګل ولسوالي چې له چپې درې او مانوګي وسلوالیو سره جوخته پرته ده، په ډېره اسانۍ ونيوله. د همدې وانت وايګل د ګاونډی وسلوالی اوسېدونکي اند ښېنه لري چې وسلوال مخالفين هڅه کوي د کونړ دا دواړې وسلوالی هم ولکه کړي. ولسي اند ښېنې داسې مهال راپورته شوي چې لوړپوړو افغان امنيتي چارواکو هم له ورته خبرداري پرده پورته کړه. د افغانستان د ملي امنيت يا ځارګړي اداري مشر رحمت الله نبيل د چپې درې او مانوګي وسلوالیو د بايللو خبرداری په يوه امنيتي غونډه کې وکړ، او ويې ويل که مخکې له مخکې د ساتلو تابيا ونه شي نو دغه وسلوالي به هم د طالبانو لاس ته ولوېږي: ''زه له وړاندې دا وايم او بايد د حل لاره ورته ولټوو. که په مانوګي او چپې درې کې عمليات ترسره نه شي، نو دا دواړه وسلوالی به هم سقوط وکړي، نو بايد ددې لپاره جدي پلان ونيول شي.''

سيمه ييز امنيتي چارواکي هم مني چې وسلوالو مخالفينو دغو دواړو ولسوالیو ته ورغلې لار نژدې په خپله کابو کې راوستې ده او هر وخت ګوابنې پېښولی شي. امنيتي چارواکي دا اند ښېنې د وانت وايګل له بايللو او د پېچ له اوږدې درې نه د نړيوالو ځواکونو تر راوتلو وروسته کوي. دغلته اوس د ولسي خلکو تګ راتګ هم يو څه سخت شوی. ددغو وسلوالیو ساتل له ستراتيژيک پلوه هم د حکومت لپاره ارزښت لري، ځکه دا اند ښېنې شته چې که د چپې درې او مانوګي وسلوالی د دولت له ولکې ووځي، نو د نورستان مرکز پارون ته ورغلې لار چې له وړاندې نه له خنډونو ډکه وه، بيخي وتړل شي او د کونړ مرکز اسعدآباد مرکز به هم د مخالفينو تر فشار لاندې راشي. په هر صورت که چېرې د ولسوالیو د سقوط لړی دوام پيدا کړي، پرون هغه، نن دا او سبا نورې د سقوط له حالت سره مخ شي، نو په افغانستان کې د بهر نيو پوځونو پراخ نظامي شتون څه مانا او د افغان پوځونو، چې په نژدې راتلونکي **۳مخ**

به حقوق همۀ مردم توجه نمودن مکلفیت تمام شهروندان است!

خالد وفایی

جوامع انسانی متشکل از افراد و اشخاصی اند که بنا بر خواسته ها، آمال و آرزوهای مشترک دور هم جمع شده و زنده گی توأم با همی را اختیار نموده اند؛ این افراد بنا بر کرامت انسانی شان و حیثیت ذاتی یی که خداوند جل جلاله به عنوان اشرف مخلوقات برای شان قایل شده است، دارای یک سلسله حقوق و امتیازات از قبیل حق حیات، حق مصؤونیت شخصی و فامیلی، حق کار به منظور دریافت معیشت از راه مشروع، حق تحصیل و تعلیم و تربیه، حق داشتن همسر و تشکیل خانواده، ... اند؛ در مقابل وجایب و مکلفیت هایی چون رعایت حقوق دیگر شهروندان، عدم ارتکاب اعمال خلاف قانون و مقررات، احترام به حیثیت و کرامت شهروندان، برداشتن گام های مؤثر در جهت بهبود وضعیت اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی کشور دارند. اما این حقوق در جوامع انسانی بعضاً از طرف همنوعان شان نقض شده و افراد نمی توانند، از آن امتیازات و صلاحیت ها مستفید شده، بلکه محروم از هر نوع حقوق شان می گردند. به همین منظور، خداوند متعال در طول تاریخ، ادیان بزرگ آسمانی را برای حراست و نگهبانی حقوق انسان ها نازل و در آن اوامر و نواهی را برای بشریت در قالب کتاب های آسمانی تعیین نموده است و انسان ها را به اطاعت از آن فراخوانده و افراد را ملزم می گرداند، تا مطابق آن دساتیر رفتار و کردار خود را تنظیم و در روشنایی آن فعالیت نموده و جامعۀ ایده آل را ایجاد نماید، چون انسان ها اشرف مخلوقات خداوند جل جلاله است و روی همین ملحوظ، دارای حقوق اساسی و آزادی های اساسی است. با وجود دستورهای واضح و روشن خداوند (جل جلاله) باز هم افراد و اشخاصی هستند که به نقض حقوق افراد دیگر پرداخته و مرتکب اعمالی می شوند که خلاف دستورهای خداوند (جل جلاله) است.

از جانب دیگر، دولت ها نیز، به منظور حراست و نگهبانی حقوق شهروندان شان، قوانین وضع و اتباع را مکلف به رعایت آن می نمایند، در حقیقت، قانون حدود و مرزهای اعمال حقوق انسان ها را در قلمرو معین، تعیین نموده و مکلفیت ها را مشخص می نماید. قدر مسلم است که هرگاه افراد زنده گی با همی را اختیار می نمایند، باید از یک سلسله امتیازات خود به نفع دیگران چشم پوشی و در مقابل، حراست و نگهبانی و رعایت حقوق خود را از جانب دیگران ضمانت نمایند، هرگاه افراد مطابق دستورهای قوانین نافذۀ کشور از حقوق شان استفاده نمایند و پا فراتر از محدودۀ قانون نگذارند، نه جرم به وجود می آید و نه جرم وجود خواهد داشت و نه افراد متضرر می گردند، اما این غریزه نفع جویانه و نفع خواهانه انسان ها است که گاهی انسان ها را وادار می نماید که فراتر از قانون عمل نموده و برای کسب منافع بیشتر گام روی حقوق سایرین می گذارد و این زمانی اتفاق می افتد که غریزه نفع جویانه و قدرت طلبانۀ انسان ها روی اخلاق، عواطف و وجدان (قاضی درونی) شان تسلط یافته و ارادۀ انسانی را تحت حاکمیت خود قرار دهد، در غیر آن، اگر وجدان و اخلاق روی ارادۀ انسان ها حاکمیت مطلق داشته باشد، هیچگاهی جرم به وقوع نخواهد پیوست، برعکس هرگاه برخلاف دستورهای قوانین، افراد و اشخاص مرتکب اعمالی شوند که قوانین نافذۀ حکم به عدم انجام آن نموده باشد، از یک طرف حقوق دیگران را نقض نموده و از جانب دیگر، روی اخلاق عمومی و روحیۀ جمعی تأثیرات منفی وارد نموده و مستحق مجازات پنداشته شده و مطابق قوانین نافذۀ **ص۳**

د کابل بانک د قضيې پر سر، ولسي جرګې يو ...

بودیجه ۱۵۳،۹ او پراختیايي بودجه ۷۲،۵ میلیارده افغانی کړه او د تېرې شنبې پر ورځ يې بیا ولسي جرګې ته وړاندې کړه. دغه بودیجه د جرګې په کمېسیونونو کې تر بحثونو وروسته پرون د تصویب یارد لپاره عمومي غونډې ته وړاندې شوه. په ولسي جرګه کې د کابل استازي شکریه بارکزی، د ولسي جرګې په پرونۍ غونډه کې وویل، چې په بودیجه کې بنسټیزې پروژې په پام کې نه دي نیول شوي او په کې داسې کومه پروژه هم نشته، چې خلکو ته د کار زمینه برابره کړي. د دې په وینا، د روان کال په بودیجه کې د ولایتونو ترمنځ انډول په پام کې نه دی نیول شوی او دېرې پروژې د افغانستان له ملي ستراتیژیک پلان سره توپیر لري. همدراز په ولسي جرګه کې دهرات استازي خلیل احمد شهیدزاده وویل، چې د روان کال په بودیجه کې لومړیتوبونه په پام کې نه دي نیول شوي. هغه وایي، چې په بودیجه کې ۷۳ میلیون ډالره د افغانستان بانک لپاره، چې هغه به کابل بانک ته ورکوي، په پام کې نیول شوي دي. ده زیاته کړه: ((دا مور ته په هیڅ ډول د منلو وړ نه ده، چې د ملت حق دغه شان یو بانک ته، چې د ماتې په حالت کې دی، ورکړل شي.))

کابل بانک چې یو خصوصي بانک و، وروسته له هغه چې تېر کال يې په اړه د سلګونو میلیون ډالرو تاوان خبرونه خپاره شول، د افغانستان بانک تر کنټرول لاندې راوستل شو. خو څو ورځې مخکې د افغانستان بانک اعلان وکړ، چې د کابل بانک یوه برخه د مالیې وزارت اړوند شوه او بله برخه يې تر تصفیې لاندې ده. د شهیدزاده په وینا، د راتلونکو کلونو د بودیجې په جوړښت کې باید د ولسي جرګې غړیو ته هم ونډه ورکړل شي، ترڅو د مالیې له وزارت سره یوځای لومړیتوبونه په ګوته کړي. د دې جرګې د مالیې او بودیجې کمېسیون رییس امیرخان یارهم یادې ستونزې تایید کړې. ده داهم وویل، چې د روان کال پراختیايي بودیجه د تېر کال په پرتله کمه ده. ده دا نیوکه هم وکړه، چې تېر کال یو بودیجوي واحد هم د خپلې پراختیايي بودیجې ۴۰ سلنه نه ده لګولې.

د دې ستونزو له اوربدو وروسته دولسي جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي وویل، چې د روان کال بودیجه ګڼې ستونزې لري او باید په اړه يې د جرګې د غړیو رایې واخیستل شي. د ولسي جرګې په پرونۍ غونډه کې له حاضرو ۱۲۸ تنو څخه ۸٦ تنو د بودیجې درد لپاره موافق (شنه کارتونه) او ۴۲ تنو يې د تصویب لپاره سره کارتونه پورته کړل. دا بودیجه په داسې حال کې یو ځل بیا رد شوه، چې د مالیې وزیر له ولسي جرګې غوښتي وو، چې بودیجه ژر تصویب کړي، ځکه چې تولې دولتي چارې او د مامورینو تنخواګاني د بودیجې له تصویب سره تړاو لري. د پژواک د راپور له مخې، د اساسي قانون د ۹۸ مې مادې له مخې، که چېرې د ځینو عواملو له مخې، د مالي کال تر پیله مخکې بودیجه تصویب نه شي، نو د نوې بودیجې تر تصویب پورې د تېر کال بودیجه تطبیقېږي.

په همدې ماده کې راغلي، چې حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال بودیجه د روان کال د بودیجې له اجمالي حساب سره ملي شورا ته وړاندې کوي. د دې قانون له مخې، ولسي جرګه نشي کولای د بودیجې تصویب له یوې میاشتې څخه زیات او د پور د اخیستلو او ورکولو اجازه کوم، چې په بودیجې کې شامل نه وي، تر پنځلس ورځو زیات وځنډوي. د یادې مادې له مخې، که چېرې ولسي جرګه په دغه موده کې د پور د اخیستو او ورکولو د پیشنهاد په هکله تصمیم ونه نیسي پیشنهاد تصویب شوی ګڼل کېږي.

به حقوق همۀ مردم توجه نمودن مکلفیت ...

کشور مجازات می گردند، تا از یک طرف پند و عبرت برای دیگران باشد و از جانب دیگر، فرد مذکور را اصلاح و تربیۀ مجدد نموده و روحیۀ جرمی شان را از بین برده و به عنوان فرد سالم تحویل جامعه دهد، تا دوباره اشخاص جرئت انجام اعمال خلاف قانون را نداشته باشند، پس قانون صرف برای حراست و نگهبانی حقوق شهروندان وضع و در پرتو آن سلامت جامعۀ انسانی ضمانت شده، بناءً می طلبد که شهروندان حقوق همدیگر را محترم شمرده و در راستای ساختن جامعۀ سالم و ایده آل تلاش نمایند، تا زنده گی توأم با آرامش و آسایش در سایۀ صلح وثبات داشته باشند.

که همدا حال وي، ټول افغانستان به ...

کې ورته پوځي مسوولیتونو سپارل کېږي، وړتیا په څه کې ده او ایا دوی به وکولای شي، چې له بهرنیو پوځونو پرته د هېواد امنیت ټینګ کړي؟ حال دا چې له بهرنیو پوځونو او بهرني ملاتړ سره سره دوی له سقوط سره مخ دي؟!!

د قومي مشرانو د وژلو لړی اوس ...

وسلوالو له خوا وژل شوی د. د نومورې په وینا، عبدالرحمن الله یو قومي مشر و، چې د قومي شخړو په هوارولو کې يې ونډه درلوده.

نومورې وویل چې تراوسه ددې وژنې په تړاو څوک نه دي نیول شوي او په اړه يې خبرنې پیل شوې دي.

ددې قومي مشر یوه ګاونډي ۲۵ کلن غلام نبي وویل: "دغه کس له چا سره دښمني نه درلوده اوهغه مهال د ناپېژاندو وسلوالو له خوا ووژل شو، چې جومات ته د لمانځه لپاره روان و."

ده ها حلقه ماین ساخته ایران ...

و راپور قوماندانی امنیۀ ولایت بلخ به آنها گزارش داده شده بود.

شیرزاد اظهار داشت که مخالفان می خواستند، از این مواد، در عملیات تخریبی و هدف قراردادن کاروان های نیروهای امنیتی استفاده نمایند.

وی افزود که در این رابطه کسی بازداشت نشده و تحقیقات از سوی پولیس آغاز گردیده است.

حبیب یکتن از باشنده گان محل به پژواک گفت: "پولیس ابتدای شب آمده و منطقه را محاصره کردند".

وی گفت که دیده است نیروهای پولیس مقداری مهمات و ماین را از زمین بیرون کرده و به قوماندانی امنیه انتقال دادند.

گفتنی است که در سال گذشته نیز، نیروهای امنیتی ولایت نیمروز، ۱۹ تُن مواد منفجره را از یک موتر لاری در گمرک این ولایت به دست آوردند که بعد از کشف و ضبط مواد یادشده، وزارت امور خارجۀ کشور اعلام کرد که این مواد، ساخت ایران بوده و از آن کشور وارد افغانستان گردیده است.

اما وزارت امور خارجۀ ایران این ادعا را رد کرده و اظهار داشت که این مواد، منفجره نه، بلکه مواد محترقه بوده که از کشور چین به افغانستان ترانزیت شده است.

سیاستمدار آلمانی:
دولت آلمان حقایق جنگ افغانستان را برای مردم نمي گوید

یک سیاستمدار آلمانی در گفتگو با یک هفته نامۀ آلمانی با ابراز نگرانی از عملکرد نیروهای کشورش در افغانستان گفت که دولت آلمان تمامی حقایق جنگی را برای مردم نمی‌گوید.

به گزارش اشپیگل، "هانس کریستین شتروبل " از حزب سبز آلمان با اشاره به حضور ۱۴۰ تک تیرانداز آلمانی در افغانستان در سال ۲۰۱۰ گفت که اطلاعات مشخصی دربارۀ این افراد وجود ندارد و خواستار انتشار اخبار روشن درباره اهداف این افراد و تعداد قربانیان آلمان در افغانستان شد.

بر اساس این گزارش، شتروبل برپایی محکمه یی در آلمان شبیه به آنچه دربارۀ شماری از نظامیان امریکایی برگزار شد را رد کرد، اما گفت: ارتش آلمان تمامی حقیقت را افشا نمی‌کند. این در حالی است که شمار سربازان (تک تیرانداز) مستقر در افغانستان در سال های اخیر به شدت افزایش یافته به طوری که نسبت به سال ۲۰۰۶ به ۶ برابر رسیده است.

از طرفی به کار گیری این افراد از جمله در منطقه "چهاردره " نیز، رو به گسترش است، اما وزیر دفاع دربارۀ اهداف آنها چیزی نمی‌گوید و من شخصا مشتاقم بدانم که چطور با وجود چنین نیروهایی از کشتار غیرنظامیان جلوگیری می‌شود.

وی با اشاره به پاسخ دولت آلمان مبنی بر حضور این نیروها در کنار دیگر نظامیان آن را راضی کننده ندانست و نسبت به امکان تیراندازی به افراد بیگناه و کشتار آنها هشدار داد.

سنگ تهداب یک تعمیر جدید برای پوهنتون پکتیا گذاشته شد



سنگ تهداب تعمیر جدید پوهنتون پکتیا در شهر گردیز گذاشته شد.

روح الله سمون سخنگوی والی پکتیا به آژانس خبری پژواک گفت که این تعمیر در دو منزل اعمار می گردد که دارای ۲۲ اتاق و ملحقات دیگر خواهد بود.

وی علاوه نمود که این تعمیر ۱۲ میلیون افغانی هزینه بر داشته و کار آن در مدت شش ماه تکمیل خواهد شد.

به گفتۀ سمون، این مصرف از بودجۀ انکشافی وزارت تحصیلات عالی پرداخت می شود.

نامبرده گفت که تیم بازسازی ولایتی امریکا مستقر در این ولایت از اعمار یک لیلیۀ دخترانه در پوهنتون پکتیا تعهد نموده است.

پوهاند عبیدالله پریار رییس پوهنتون پکتیا به آژانس خبری پژواک گفت که تعمیر جدید برای ماموران اداری پوهنتون اعمار می گردد.

وی علاوه نمود که مشکل عمدۀ آنها با اعمار این تعمیر حل خواهد شد.

به گفتۀ موصوف، در آیندۀ نزدیک به کمک وزارت مبارزه علیه مواد مخدر یک لیلیه برای پسران و بلاک های درسی برای محصلان اعمار خواهد شد.

به اساس یک خبر دیگر، دیروز یک پروژۀ دیوار استنادی در شهر مهترلام مرکز ولایت لغمان تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

محمد جعفر جبارخیل رییس انکشاف دهات این ولایت به آژانس خبری پژواک گفت که این دیوار با طول ۳۵۰ متر و عرض دو نیم متر و ارتفاع دو متر در منطقۀ قلعه جوگی شهر مهترلام در کنار دریای الینگار اعمار گردیده است.

وی علاوه نمود که با اعمار این دیوار، ۱۸۰ باب منزل و ۳۰۰ جریب زمین زراعتی در منطقۀ یادشده از اضرار سیلاب محفوظ می گردد.

ډګرجنرال امام الدين:

داوود خان ما نه دی وژلئ! هغه ټپي کړی يم



بنی لاس د سلامي له پاره اوچت کړ. له بده مرغه ولسمشر پر مور ډزې وکړې. زه کلک ټپي شوم او زما ملګري ووژل شول.»

نارويژي خبريال هڅه کوي چې جنرال وغږوي او د هغه له خولې حقيقت واوري. هغه له خپلې اصلي پوښتنې وړاندې له امام الدين څخه د ثور د اومې نهټې د پېښې لامل پوښتي چې جنرال يې داسې ځوابوي: «زه شوروي اتحاد ته وليږل شوم. ګڼ شمير نور افسران هم هلته وليږدول شول. ځکه د افغان پوځ ټولې وسلې او تخنيک روسي وو. دا افسران يا د خلک د ديموکراتيک ګوند غړي وو يا هم د هغه پلويان. ګوند د داوود خان له خوا تر ګواښ لاندې راغی او ګڼ شمير مشران يې بنديان شول. د همدې لپاره ګوند د داوود خان له ملاتړه لاس واخيست. کله چې د ګوند مشر ووژل شو او ګڼ شمېر نور بنديان شول او د اپريل د (۲۶) نيټې په خبرونو کې اعلان شو چې د خلک د ديموکراتيک ګوند غړي هېواد ته رښتيني نه دي، بيا نو د ګوند مشرتابه پلاوي له ځانه د دفاع پرېکړه وکړه او دا د پاڅون پيل و.»

همدا چې خبريال له امام الدين څخه پوښتنې چې آيا داوود خان دې وژلی که ژوندی دی، هغه د پوښتنې ځوابولو ته د تياري لپاره د اوبو ګيلاس پر سر اړوي او نکل داسې اوږدوي: «ما په عملياتو کې ګډون نه درلود. زه د مخابرې يو ټيټ رتبه افسر وم. د ولسمشرۍ د مانۍ ساتونکي (افسران او سرتيري) يا وتښتيدل او يا هم تسليم شول. زما قوماندان ماته دستور راکړ چې ولسمشر ته يو پيغام ورسوم. پيغام: ((د خلک ديموکراتيک ګوند په ټول هېواد واک لري)). زه او درې نور سرتيري چې يوه يې د مخابرې دستګاه درلوده ولسمشر ته ورغلو.»

لومړی بريدمن امام الدين، د شهنواز تنې په امر چې هغه مهال د کوماندو د پوځ مشر و ارګ ته استول شوی و. خبريال په دې اړه په خپل رپوټ کې د شهنواز تنې د خبرو دې برخې ته ځای ورکړی: «تاسو پوهيږئ چې په دولتي او حکومتي چارو کې سلسله مراتب شته. د افغانستان د خلک ديموکراتيک ګوند هغه مهال چې زه د کوماندو د پوځ قوماندان وم لارښوونه وکړه او ما خپله امام الدين خان او نورو افسرانو ته چې په دغه ورځ دوی وظايف اجرا کول او د دولتي او عسکري قوماندانيت له مکلفيت سره سم مې وظايف ورکول او هدايات ورکړي.»

وروسته بيا امام الدين د افغانستان د لومړني ولسمشر سردارمحمد داوود خان په وژنې تورن، ډګرجنرال امام الدين، چې په ناروې کې ژوند کوي، په دې وروستيو کې د ناروې له يوه ټلويزيوني کانال سره د (۱۳۵۷) لمريز کال د ثور د اومې نهټې د پېښې او په ده د لګيدلي تور په اړه مرکه کړې. ښاغلي نجيب اوريا خپل دا مرکه اوربدلې او دا راپور يې پرې ليکلی دی:

ډګرجنرال امام الدين: ولسمشر داوود خان مې نه دی وژلی، بلکې هغه پر ما د تومانچې ډزې کړې او زه يې ټپی کړی يم.

له نن څخه نژدې (۳۳) کاله وړاندې د خلک ديموکراتيک ګوند د افغانستان لومړنی ولسمشر سردار محمد داوود خان د خپلې کورنۍ له غړو سره د ارګ په مانۍ کې ووژله او په دې ډول يې د هېواد واکمني خپله کړه.

که څه هم تراوسه پورې د ثور د اومې نهټې د پېښې او د داوود خان د وژنې په اړه ډېرې ليکنې شوي، خو دا به لومړی ځل وي چې د ولسمشر په وژنې تورن کس د دغې خونړۍ ورځې نکل په خپله ژبه د يوه ټلويزيون کمرې ته کوي.

د هغه مهال د کوماندو د قطعې لومړی بريدمن امام الدين نکل داسې پيلوي: «زه د مخابرې يو افسر وم. ما وسله نه درلوده او يوازې مې ولسمشر ته پيغام رساوه. ما په پوره درناوي هغه ته پيغام ورساوه او د درناوي لپاره مې هغه ته ارګ مانۍ ته د ننوتو او له ولسمشر داوودخان سره د مخامخېدو کيسه داسې کوي: «په مانۍ کې شپږ تر اته کسان وو چې ټولو وسلې درلودې. زه په پوره درناوي د ولسمشر هرکلي ته ورغلم. لومړی مې د درناوي له پاره بنی لاس سلامي ته اوچت کړ او هغه ته مې وويل: «عالیقدره ولسمشره، د خلک ديموکراتيک ګوند د ټول هېواد واک خپل کړی دی. ځکه نو تاسو بايد ځان تسليم کړئ. ولسمشر زما خبرې واوريدې.»

د داوود خان د کورنۍ غړي چې د دغې خونړۍ پېښې پرمهال په ارګ کې وو او له پېښې ژوندي راوتي وو وايي چې ولسمشر اصلاً د تسلميدو هوډ نه درلود او د امام الدين په ځواب کې ويلې وو چې هغه له خپل خدای پرته چاته نه تسلميږي. ولسمشر پيغام واورېد، خو غبرګون يې د امام الدين او دهغه د ملګرو په وړاندې څه و؟ په دې اړه د داوود خان په وژنې تورن امام الدين وايي: (ولسمشر او د هغه ملګرو پر مور ډزې وکړې، زه په بنې اوږه باندې ولګيدم او لاس مې لاندې ځوړند شو. هغه کسان چې زما څنګ ته ولاړ وو پر ځمکه رانسکور شول. د خپل ژوند د ژغورلو لپاره مې د دروازې په لور منډه کړه. ما ديرش تر پنځوس متره منډه وکړه. هلته ډېر کسان ولاړ وو او پايلې ته منتظر وو. بيا مې وليدل چې زه ټپي شوی يم او پر ما وينې بهيږي. يوه افسر زه تر پوځي روغتونه رسولی وم. زه د لارې په اوږدو کې بې هوښه شوی وم).

خبريال دلته د جنرال خبرې غوڅوي او هغه ته د دستګير پنجشيري د (ظهور و زوال حزب ديموکراتيک خلق افغانستان) په نامه د کتاب هغه کرښې ورښيي چې امام الدين د راډيو افغانستان ودانۍ کې د ګوند مشرانو ته د داوودخان د وژل کيدو خبر راوړي. په داسې حال کې چې امام الدين د داوود خان له خوا تر ټپي کيدو وروسته د ځان د بيهوښۍ او روغتون ته د لېږدول کېدو خبرې کوي، نه د راډيو افغانستان ودانۍ ته د داوود خان د وژل کيدو د خبر د راوړلو. امام الدين له ناچاريه د دستګير پنجشيري خبرې سمې ګڼي او وايي: (دستګير پنجشيري غلط نه دی ليکلي. هغه د راډيو په ودانۍ کې و، خو هلته ډېر اتاقونه دي. په يوه واړه اتاق کې دري تر څلور تنه راټول شوي وو). خبريال له امام الدين څخه پوښتي: ته هم هلته وې؟ او هغه يې په ځواب کې وايي: (هو، زه له څو مهمو کسانو سره هلته وم. فقط د يوه لنډ وخت لپاره). خو له دې سره، سره امام الدين وايي: (زه د داوود خان په مړينې خواشينی يم، خو که داوود خان زما په لور ډزې نه وی کړې، دا به نه وو پېښ شوی. ګوند غوښتل چې په پوره درناوي هغه يوه خوندي او امن ځي ته ولېږدوي. زه په دې اړه ډېر زيات خواشينی يم او هېڅ ملامت نه يم. زه يوازې پيغام رسونکی وم، نه د جګړې سړی.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز
ماده اول: ۲- این ماده خللی نسبت به اسناد بین المللی و یا (مصوبات) قوانین داخلی کشورها که مفهوم وسیعتری برای شکنجه در نظر گرفته انـد، وارد نمـی کند. (باید بر اساس همان مفهوم وسیعی که آن سند بین المللی و یا قانون داخلی در نظر گرفته است، عمل نمود).
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه يوازې د سرليکنې ننګه کوي، نورې ليکنې د ليکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه يې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com